ورځپاڼه
# مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۳۱مه | د ۲۰۱۹ د مي ۲۱مه | درېيم کال| ۳۷۷يمه گڼه

## ځېره

۴ مخ



د بروس لي فلمونه په لوېديځ کې تر دويمې نړيوالې جگړې ۲۵ کاله وروسته راڅرگند شول. دا هغه مهال و، چې د دغه ډول فلمونو لپاره فضا کاملاً مناسبه وه. ډېری خلکو له سپورټ، رزمي لوبو او ورته هنرونو سره مينه لرله.

### بروس لي

## د نورستان- کونړ د لويې لارې د ترميم چارې پيل شوې دي



د نورستان له مرکز پارون څخه د کونړ پر لور د دغه ولايت نښلوونکي سړک د ترميم چارې پيل شوې، چې د چارواکو په خبره، شل ميليونه افغانۍ لگښت به پرې راشي.
د دغه ولايت چارواکو ويلي، چې له مرکز پارون څخه به د کونړ پر لور د پنځلس کيلومتره په اوږدوالي او اووه متره پلنوالي د لويې غځېدلې لارې ياده برخه د جغل په اچولو سره جوړه شي.
د نورستان د فوايد عامې رييس انجنير عبدالولي رييسي ويلي، چې د يادې پنځلس کيلومتره لارې په مسير کې به ۲۵ واشونه، د ۳۵۰ مترو په اوږدوالي د ترافيکي پېښو د مخنيوي په موخه استنادي دېوالونه جوړ او د لويو موټرو د ستونزو د هوارولو لپاره به په ځينو برخو کې نوې کټايانې هم جوړې شي.
د يادې لويې لارې موټر چلوونکي د دغه اقدام هرکلی کوي او وايي چې تر ډېره به د دوی ستونزې ورسره راکمې شي.

## د ولسمشرۍ نوماندان: د غبرگولي تر لومړۍ نېټې وروسته ولسمشر غني د هر بحران مسوول دی



۳

حکومت د ملکيانو له وژلو څه تر لاسه کوي؟

۲ مخ

بې نرخه، بې اره او بې معياره جگړه

۲ مخ

نوي خبرې او پخوانۍ کيسې

۳ مخ

## د ولسي جرگې رياست د ستونزې د حل لپاره نوی ۲۷ کسيز پلاوی ټاکل شوی دی

ولسي جرگې د رياست پر څوکۍ د رامنځته شوې ستونزې د حل لپاره د پخواني پلاوي د لسو غړو په گډون، نوی ۲۷ کسيز پلاوی ټاکلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د غويي په ۲۸مه د ولسي جرگې د رياست د ټاکنو په دويم پړاو کې دوو نوماندانو (مير رحمان رحماني او کمال ناصر اصولي) ته د رايو صندقونه کېښودل شول، خو د دريو رايو د ورکېدو له امله د جرگې د غړو تر منځ شخړه رامنځته شوه، ځکه که ثابته شي چې په هغه ورځ د جرگې نصاب ۲۴۷ کسان و، دواړه نوماندان ناکام دي، خو که هغه ورځ نصاب ۲۴۴ کسان وي، په هغه صورت کې رحماني گټونکی دی.

وروسته بيا ورځ يو ۱۵ کسيز پلاوي ته دنده ورکړل شوه، چې د تېرې ورځې اصلي نصاب په ډاگه کړي، خو د جرگې ځينو غړو دغه ۱۵ کسيز پلاوی غيرقانوني بللی او وايي، دغه پلاوی د ولسي جرگې له خوا نه دی تاييد شوی.

په ولسي جرگه کې د کاپيسا د خلکو استازي مير حيدر افضلي تېره ورځ خبرياالانو ته ويلي، نوی ۲۷ کسيز پلاوی د جرگې د اکثريت غړو په رايو ټاکل شوی دی. هغه زياته کړې، پنځه د رحماني پلويان، پنځه د اصولي پلويان چې د مخکيني پلاوي غړيتوب يې هم درلود او د جرگې نور غړي په ياد پلاوي کې شامل دي. نوموړي زياته کړې، دغه پلاوی دنده لري چې ارشيف ته په مراجعې ثبت شوي انځورونه، ويډيوگانې او د ټاکنو په ورځ د جرگې د غړو لاسليکونه وڅېړي او په اړه يې د جرگې عمومي ناستې ته راپور وړاندې کړي.

## فساد لاهم د افغان سولې پروسې په مخ کې اساسي خنډ دی

UNAMA

۵ مخ

## وزارت خارجه: پاکستان باید گام های عملی برای صلح در افغانستان بردارد




وزارت امور خارجه، خواستار اقدام های عملی پاکستان برای صلح افغانستان شده و از تحرکات منطقه یی و بین المللی بخاطر زمینه سازی گفت‌وگوهای مستقیم صلح میان حکومت و نمایندگان طالبان، استقبال کرده است.
صبغت الله احمدی سخنگوی وزارت امور خارجه، دیروز در نشست خبری در کابل از اشتراک صلاح الدین ربانی سرپرست وزیر امور خارجه افغانستان در نشست های گفتمان آسیای میانه وجاپان به اضافه افغانستان خبر داده و گفته است که در این نشست ها، بر همکاری های منطقه یی و بین المللی در امر مبارزه با تروریزم و تمویل آن، مبارزه با قاچاق مواد مخدر و جرایم سازمان یافته تأکید شده است.
به گفته او، اشتراک کننده گان این نشست ها روی همکاری کشورهای شان با افغانستان؛ برای توسعه زیربناها، تقویت همکاری های اقتصادی میان کشورهای آسیای میانه و افغانستان، به همکاری جاپان و ایجاد سازوکارهای جدید منطقه یی برای مبارزه با تروریزم و جرایم سازمان یافته، نیز تأکید شده است.
او گفته است: «ما از تحرکات منطقه یی و بین المللی به خاطر زمینه سازی گفت‌وگوهای مستقیم صلح میان دولت جمهوری اسلامی افغانستان و نمایندگان طالبان، به ویژه فعال شدن آلمان و هند در این زمینه استقبال می نماییم و از پاکستان می خواهیم که گام های عملی برای صلح در افغانستان بردارد».

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کيفيت او چټک خدمات
په وايگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وايگل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

# بې نرخه، بې اره او بې معیاره جګړه



لیکنه: انتظار خادم

افغانان په تاریخ کې شریف، نجیب، با دوده، منلي او ښکلي خلک وو. دوی به سر ورکاوه، خو سنګر نه؛ لویه بها به یې ادا کوله، خو دودونه به یې نه ماتول. دوی به وطنونه ورانول، دښمن به یې نیست او نابود کاوه، دښمن به یې تارو مار کاوه، خو د دښمن سرتورو، مېرمنو، ماشومانو او سپین ږیرو ته به یې څه نه ویل. د غیرت، سړیتوب، احساس او معیارونو جګړې د افغان تاریخ غوښنه برخه جوړوي.

افغان څه لا چې د پیغمبر (ص) له زمانو دغه فنون راپاتې دي، د جګړو اصول را پاتې دي، د جګړو هنر را پاتې دي، سنزو د چین یو نظامي فیلسوف و، نوموړی که څه هم ډېر متشدد جنرال و، خو د جنګ لپاره یې خاص اصول وضعه کړي وو. د جګړو هنر کتاب یې چې ما تفسیر کړی، د جګړو او په جګړو کې د اخلاقي موازینو له ارونو ډک دی.

سیف الله خالد بن ولید، سکندر مقدوني او حضرت عمر د جنګي اخلاقو نمونې دي، په داسې حال کې چې افغان جګړه د تاریخ مرموزه، بې اصوله، وحشي، پېچلې او څو بعدي شخړه ده. څوک یې ورور وژنه بولي او څوک یې د پاکستان-هندوستان سیاسي سیالي، عربستان- ایران مذهبي تقابل او چین-امریکا اقتصادي پهلواني ګڼي.

دغه راز څوک یې د نشه یې توکو کاروبار، څوک یې د فساد پایله، څوک یې د ملت اغفال، څوک یې غربت او بېکاري او څوک یې د بعضو افغان سیاسي مشرانو بې ضمیرتوب له امله یادوي چې خپل اولادونه او کورونه ساتي، خو د غریب بچي په مختلفو پلمو له تېغه تېروي.

هر څه چې وي، خو جګړه روانه ده. هره ورځ سپین سرې میندې د ځوانیمرګو زامنو ساندې غږوي او هره ورځ سپین ږیري بېوزله پلرونه د خپلو قرباني شوو بچو لپاره د قبر ځایونه لټوي.

په کلیو کې د مړو خښولو ځایونه کم شول، کلیوال پر جنازو ستړي شول، امریکا ستړې شوه، سیمه ییز خشن او شریر ګاونډیان له جنګ نه شا ته کېدونکي دي، عربان په لومړي ځل پر افغانانو دردمن ښکاري او اوس د منځګړیتوب غوښتنه کوي، خو زما افغان ورونه لا اوس هم د یوه بل وژلو ته تیار ناست دي. په دې جګړه کې هېڅ اخلاق نه مراعاتوي، په دې جګړه کې ټول سرحدونه شا ته پرېږدي، په دې جګړه کې لکه تېره داسې کلک دي، هم ځان وژني، هم بل. په دې جګړه کې که یوه اړخ جومات شهید کړ او بل اړخ د دښمن په کور ورغی او ښځې یې ترې یووړې.

که یوه اړخ په یوې مړی ډوډۍ پسې ورک حکومتي مامور وواژه، نو بل اړخ هر پټکی لرونکی او ږیرور سړی د طالب په نامه ګوانتانامو، بګرام او پلچرخي ته واستاوه. دغه راز که یو اړخ بېچاره انجنیر غرغره کړ، نو بل اړخ پر ودونو بمبارونه وکړل او ښادۍ یې وغمولې.

په دې جګړه کې څه ونه شول! تاریخ یې په یادولو ژاړي، تاریخ د شرم احساس کوي، خو موږ بې حسه انسانان اوس هم غاړې پورته پورته وړو او پر خپلو کړو وحشتونو ویاړ کوو.

د بېچاره انسانانو وژل، بندي کول، تښتول، اخلاق له منځه وړل، ملت کلونه کلونه شاته وړل، فساد کول، جنګ لکه لنګه غوا لوشل او په سلو نومونو د وینو دا لړۍ ژوندۍ ساتل زموږ د معاصر تاریخ توره برخه شوه. زما د وطن شجاع سرتېري د سر په بدل کې د دښمن نیزې ته سینه سپر کوي، جنګ کوي، خو د هېواد بعضې مشران یې پر وینو قېمار وهي، وژني یې، هېروي یې، طالب او افغان سرتېري د دغه وطن بچي دي؛ هو منم چې نن یو بل ته په سنګر کې ناست دي، مګر هرو مرو به سوله راځي، خو مخکې له دې چې سوله راشي، راځئ د دغه وطن دنګ دنګ ځوانان د دې بې خونده، بې رنګه او بې اره جګړې ښکار نه کړو؛ هڅه وکړو چې د نورې وینې له تویېدو مخنیوی وکړو.

د جنرال نېکولسن، جان کیري او باب ګېټس په کتابونو او وینو کې راغلي چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي لانجه به تل له امریکا او بهرنیانو سره پر ملکي وژنو، د شپې له خوا پر کورونو پر چاپو، مقدساتو ته پر بې عزتۍ او پر سپیو د جوماتو تلاشي کولو پر سر وه. دوی اعتراف کوي چې کرزی په حقه و، ځکه افغانستان د تاریخي سیر له پړاوونو تل د دودونو، معیارونو، ارزښتونو او ارونو وطن پاتې شوی دی. په دغه وطن کې پر نورو ارزښتونو سربېره، ناموس د مرګ او ژوند ترمنځ د اندازه ګیرۍ مقیاس دی.

د امریکا استخباراتو هم طالبان پر څلورو ډلو وېشلي. یوه ډله پکې هغه طالبان دي چې بهرنیان او حکومت یې پر کورونو ورغلي وو، د مېرمنو په مخ کې یې توهین کړي وو، پلټلي یې وو او بې پوښتنې یې په زندانونو کې تعذیب کړي وو؛ ځکه نو دغه ډول طالبانو ته یا غچ و او یا مرګ. زه د یوه ناپېیلي افغان په حیث، کلونه کلونه د سولې په لار کې منډې تړړې وهم، پر ټولو اړخونو د جنګ درولو غوښتنه کوم، مګر هر اړخ د خپل زور په نشو کې ډوب دی، خو په یاد ولرئ، څو چې یو بل ونه بښې، د سولې ذهنیت جوړ نه کړی، د کار او زیار نوی باب خلاص نه کړی او د سولې معاصر، عملي او منطقي ارونه ونه منی، سولې ته نه شی رسېدلای.

په دې کې هېڅ شک نشته چې په جګړو کې تر مذاکراتو مخکې مرحله ډېره حساسه وي؛ شدت زیاتېږي، وژنې کېږي او یو بل ته د غښتلتیا په نمایش اخته وي، مګر دغه فورمول په بې دینه، لامذهبه، بې بندوباره، ظالمه او وحشي ټولنه کې د منلو وړ دی. کله چې د افغان جګړې دواړه طرفونه مسلمانان او افغانان دي، د دوی ترمنځ د جګړې شدت افغانان مسلمانان وژلی شي او بس.

هیله ده د طالب او افغان لورو مشرتابه غیر معمولي، غیر تجربه شوي او طغیاني جګړه ییزې مانورې پرېږدي، پر زماني حساسه مرحله سر خلاص کړي، د یوه بل پر سینو چړې خښې نه کړي او ځانونه کاغذي پړانګان جوړ نه کړي. زه هیله لرم چې د سولې په دې مرحله کې نه نور طالبان د جګړو خبرونه خپاره کړي او نه هم افغان او بهرني ځواکونه د خلکو پر کورونو ننوځي، سړي یې مړه کړي او ښځې یې یرغمل یوسي. دا نو کومه پښتو او ایمان شو؟ دا نو کوم منطق او اوجاغي شوه؟ دا نو څه ډول افغان تاریخ شو چې پر ښځو هم لاس پورته کېږي؟

## د ملکیانو د خوندیتوب ګروپ: د ښکېلو لورو په بریدونو کې ملکي مرګ ژوبله ډېره شوې ده



د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ وایي، چې حکومتي ځواکونو یو ځل بیا ډېرو ملکیانو ته مرګ ژوبله اړولې ده.

د دغه ګروپ د معلوماتو له مخې، ورمه شپه (د ثور ۲۹) په هلمند کې د دوو بېلابېلو پېښو په ترځ کې ۱۳ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۴ نور ټپیان شوي دي.

یاد ګروپ زیاته کړې چې د قربانیانو له کورنیو سره یې خبرې کړې او دوی ورته ویلي چې د هلمند د ګرېشک ولسوالۍ په سیدانو کلي کې د حکومت او طالبانو تر منځ نښته شوې، چې وروسته هوایي ځواک د عامو خلکو پر دریو کورونو بمبارد کړی، چې پنځه کسان پکې وژل شوي او لس ټپیان دي.

په ورته وخت کې، دویمه پېښه ماخستن مهال د غنمو پر ترېشل کوونکو شوې، چې اته کسان پکې وژل شوي او څلور ټپیان دي.

د دغه ګروپ د معلوماتو پر بنسټ، ورمه شپه د میدان وردګو په نرخ ولسوالۍ کې هم د عملیاتو په ترځ کې د یوه بزګر په ګډون، درې ملکیان وژل شوي دي.

یاد ګروپ ویلي، د روژې میاشتې له پیله د حکومت او وسله والو طالبانو له لوري د ملکیانو مرګ ژوبله ډېره شوې ده.

که څه هم د روژې له پیل سره ولسمشر اشرف غني وسله والو طالبانو ته وویل، چې حکومت چمتو دی چې په روژه کې اوربند وکړي؛ خو د وسله والو طالبانو ځواب منفي و او پر جګړه یې ټینګار وکړ چې پکې د ښکېلو لورو له خوا ملکیان هم په نښه کېږي.

د یاد ګروپ استازو د ملکیانو پر مرګ ژوبلې د اندېښنې ترڅنګ، یو ځل بیا پر وسله والو طالبانو او افغان حکومت غږ کړی، چې د روژې میاشتې په پاتې ورځو کې دې اوربند وکړي. یاد ګروپ دغه راز، له کورنیو او بهرنیو رسنیو هم غوښتي چې په روانه جګړه کې د ملکیانو ژوند ته پام وکړي او د هغوی له نظره لوېدلي غږ په رسولو کې دې خپل مسوولیت ترسره کړي.

## په هلمند کې ډیورنډ فرضي کرښې ته نږدې ناقانونه کیندنې ډېرې شوې دي



د هلمند په جنوب کې په ناقانونه توګه د کانونو کیندنې ډېرې شوې دي.

د لښکرګاه ښار په جنوب کې هغه کانونه چې د ډیورنډ فرضي کرښې ته نږدې دي، تر بل هر وخت یې د قاچاقبړو کچه لوړه شوې ده.

د هلمند د ولایتي شورا غړو ویلي، د پاکستان له لوري د خانشین د رخام غر او په ځانګړي ډول د بلوچستان د روبات سیمې ته نږدې د دیشي اړوند د سرو زرو کانونه د پاکستانیانو له خوا په سیستماتیک ډول کیندل کېږي او بیا یې د هوا او ځمکې له لارې د بلوچستان ایالت څخه خپلو مرکزونو ته وړي.

د هلمند د ولایتي شورا رییس عطاالله افغان ویلي، که څه هم دغه مسئله نوې نه ده، خو په دې وروستیو کې د دغه ولایت په جنوب کې، په ځانګړي ډول په هغو سیمو کې چې له ډیورنډ فرضي کرښې سره نږدې پرتې دي، په ناقانونه توګه پکې د کانونو کیندنو زور اخیستی دی.

نوموړي ویلي: «زموږ معلومات دا دي چې هغه کانونه چې د خانشین په غره کې یې لرو، په مطلق ډول د وسله والو مخالفینو په لاس کې دي او هر څوک چې دوی ته پکې یوه اندازه پیسې ورکړي، په ازادانه ډول کولای شي چې کیندنې پکې وکړي او وروسته یې پاکستان ته قاچاقوي او اوس هم دغه لړۍ روانه ده».

خو د وسله والو طالبانو وياند قاري یوسف احمدي رسنیو ته په رالېږلي پیغام کې هر ډول ناقانونه کیندنې رد کړې دي. هغه ویلي چې هېڅ‌چاته به د دغو کانونو د کیندنو اجازه ورنه کړل شي.

دا یوازې رخام او سره زر نه دي چې په ناقانونه ډول کیندل کېږي، بلکې د خانشین او دیشي ولسوالۍ په ریګونو کې د لیتیمو تر څنګ، د یورانیمو او نورو نادرو عناصرو کانونه هم موجود دي، چې د خبرنو له مخې د الوتکو او پرمختللو وسلو په کارولو کې ترې کار اخیستل کېږي.

## دریغ

### حکومت د ملکیانو له وژلو څه تر لاسه کوي؟

په وردګو او هلمند کې یو ځل بیا ګډو ځواکونو ملکي وګړي وژلي دي. که څه هم ویل کېږي، چې په دغو پېښو کې ډېر ملکي وګړي وژل شوي، خو ناپېیلې سرچینې په هلمند کې ۲۷ او په وردګو کې لسو ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې خبر تاییدوي. د ملکي وګړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ګروپ چې مرکز یې په کابل کې دی، وایي؛ دوی د قربانیانو له کورنیو سره خبرې کړې دي. د دغه ګروپ د معلوماتو له مخې، د ګرېشک ولسوالۍ په سیدانو کلي کې د حکومت او طالبانو تر منځ نښته شوې، چې وروسته هوایي ځواک پر دریو کورونو بمبارد کړی، پنځه کسان پکې وژل شوي او لس ټپیان دي. دویمه پېښه ماخستن مهال د غنمو پر ترېشل کوونکو شوې ده، چې اته کسان پکې وژل شوي او څلور ټپیان دي. دغه ګروپ وایي چې ورمه شپه د وردګو په نرخ ولسوالۍ کې هم د یوه بزګر په ګډون، درې ملکي کسان وژل شوي دي.

په دې وروستیو میاشتو کې د حکومت او امریکایي ځواکونو له خوا شپني عملیات او بمبارۍ زیاتې شوې دي، چې پکې ملکي وګړو ته پراخه مرګ ژوبله اوړي. ان څه وخت وړاندې داسې رپوټ خپور شو، چې تر وسله والو مخالفینو ډېر ملکي وګړي حکومتي او امریکایي ځواکونو وژلي دي، چې دا چاره په تېرو اتلسو کلونو کې بې ساري وه. حکومت له خپله اړخه ډېری وخت د ملکي وګړو مرګ ژوبله نه مني، خو د مرګ ژوبلې کره رپوټونه، عکسونه او ویډیوګانې را وځي. د قربانیانو د کورنیو غږې را پیدا شي او د وژل شوو کسانو د بې ګناهۍ اسناد او ثبوت وړاندې کړي. حکومت د څېړنو خبره کوي او بیا وایي چې دوی د ملکي وګړو مرګ ژوبلې ته پام کوي. ان حکومت څو څو ځله ادعا وکړه چې د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره یې تګلاره جوړه کړې ده، خو د حکومتي او ګډو ځواکونو په عملیاتو کې بیا بیا ملکي وګړي وژل کېږي.

له بده مرغه د حکومتي او ګډو ځواکونو د عملیاتو ډول داسې دی، چې مرګ ژوبله یې ملکي وګړو ته اوړي. شپني عملیات، په کلیوالو سیمو کې بمبارې او بیا په هر چا د مخالف او وسله وال شک کول، د دې سبب کېږي چې ملکي مرګ ژوبله زیاته شي. دوی چې د شپې هر څوک د باندې ویني، وژني یې. همدا د هلمند په پېښه کې خلک د شپې د باندې ترېشل کوي او دوی یې چې ویني، نو وژني یې. همداسې په نرخ کې بزګر اوبه لګوي، خو دوی پرې برید کوي او وژني یې. په ډېری مواردو کې ملکي وګړي په قصدي ډول وژل کېږي. کله خو داسې وي چې پر یو چا شک وي، له څېړنو او ثبوت وړاندې یې وژني او ان قرباني خبرو ته هم نه پرېږدي.

اساسي پوښتنه دا ده چې حکومت د ملکي وګړو له داسې وژنې څه غواړي!؟ دا ډول وژنې د ټولو اسلامي، ملي او نړیوالو ارزښتونو او نورمونو خلاف کړنه ده. دوی په دې ډول وژنو سره یوازې وېره او وحشت خپروي. دا چاره به د دغه حکومت ستنې لا کمزورې کړي، ولسي نفرت به زیات شي او بیا به یې هېڅوک ونه شي ژغورلی.

# نوې څېرې او پخوانۍ کيسې

لیکنه: نويده خوشبو / ياران

د ولسي جرګې ۱۷مه تقنيني دوره په ښکنځلو، شخړو، وهلو او ډبولو سره پيل شوه. ستونزه د ولسي جرګې د رييس د ټاکنې د څرنګوالي پر سر پيل شوه. ځينو وکيلانو د رياست په څوکۍ د مير رحمان رحماني د کښېناستلو مخنيوی وکړ، ځينو نورو وکيلانو د رحماني په پلوی منډې -رامنډې، ښکنځلې او شخړې وکړې او يوه ډله ښځينه وکيلانو د رياست څوکۍ په محاصره کولو، د لنډمهال لپاره د نوي رييس او بياځلې ټاکنو تينګار وکړ.

د ولسي جرګې د کورنيو دندو د اصولو د درېيم څپرکي په اتمه ماده کې د ولسي جرګې د رييس د ټاکنې په اړه داسې راغلي دي: «د جرګې د رييس ټاکنه د لنډمهاله رييس تر رياست لاندې، د مستقيمې او سرې رايې اچونې له مخې د يوې تقنيني دورې لپاره د حاضرو غړو په اکثريت تر سره کېږي».

په دې اساس، د ولسي جرګې د رييس د ټاکنې پر مهال، د دغه مجلس د حاضرو غړو د لېست له مخې ۲۴۷ غړي حاضر وو، د دې شمېر له مخې ۱۲۴ يې اکثريت کسان جوړوي؛ نو د ولسي جرګې رياست ته د دواړو نوماندانو هر يو چې ۱۲۴ رايې تر لاسه کړې وای، د جرګې د رييس په توګه ټاکل کېدو او اوس چې يو هم ۱۲٤ رايې تر لاسه نه کړې، نو د قانون له مخې بايد دويم ځل ټاکنې تر سره شي او په دغو ټاکنو کې به دا دوه وکيلان د بيا نوماندۍ حق ونه لري. په دې اړه د ولسي جرګې د کورنيو دندو اصولو د درېيم څپرکي په اتمه ماده کې بشپړ وضاحت ورکړی دی.

اوس پوښتنه دا پيدا کېږي چې ولې د ۲۴۷ غړو اکثريت ۱۲۳ رايې وګڼل شي ؟

د ولسي جرګې د کورنيو دندو د اصولو د عمومي احکامو ۲۲م جز کې داسې راغلي دي: «د حاضرو رايو اکثريت؛ د جرګې د حاضرو غړيو تر پنځوس سلنې ډېرې رايې دي».

کله چې قانون هر څه مشخص کړي دي؛ نو دا غوبل، د ولسي جرګې بې حيثيتي، بې عزتي او بدمعاشي د څه لپاره ؟

تاسې ولېدل چې د ولسي جرګې موقت مشر عطامحمد دهقانپور د رييس په توګه د پروان د خلکو استازي مير رحمان رحماني نوم اعلان کړ، مجلس يې پرېښود، د رحماني پلويانو هغه په څوکۍ کښېناوو، د غيږ نيونې د ګټوونکي په څېر يې ورته لاس پورته کړ او مبارکي يې پيل کړې.

خو سمدستي يوه ډله نورو استازو نيوکې وکړې او د غونډې نظم ګډوډ شو.

لومړی خو د رييس د نوم اعلان بايد په دې ډول نه وی تر سره شوی. اړتيا وه چې د اداري پلاوي په وړاندې، د يوې مصوبې په ترڅ کې، د منشي له لاسليک سره د ټاکنو پايلې د مجلس د ټولو غړو په وړاندې، همدغه مصوبه لوستل شوې وای، که چېرته د ولسي جرګې ناستو غړو، مخالفت يا اعتراض درلودی، رسېدنه ورته شوې وای او بيا د ټاکنو پايلې اعلان شوې وای، خو دلته داسې څه ونه شول. دلته بيا په دهليزونو او نورو ځايونو کې په ډالرو د ضميرونو د پېرلو ادعاوې رښتيا ثابتېدای شي. که داسې نه وي، جنجالونو او په نړيواله کچه د ملت کور شرمولو ته څه اړتيا ده؟ په داسې حال کې چې په قانون کې د دې ستونزې حل معلوم دی.

تاسې به په ولسي جرګه کې د پنجشېر د خلکو استازي ظل محمد زلمي ناموسي ښکنځلو او په څټک د کمال ناصر اصولي د ګوابښولو انځورونه حتماً ليدلي وي. له بده مرغه هغه نه يوازې په خپلو کړنو پښېمانه نه دی؛ بلکې له ازادي راډيو سره په مرکه کې ټينګار کوي چې د راتلونکو شخړو په صورت کې به خپلو حملو او دې ډول چلند ته دوام ورکوي.

ښکاره ده چې د څوکۍ، واک، ډالرو او شخصي ګټو سوداګر به خپلو موخو ته د رسېدو لپاره بيا ولس د قوم، ژبې او سمت په نوم د دې جګړې قرباني کوي.

دا لانجه لا ختمه نه ده؛ دوام به لري، معلومه نه ده چې وهل او ډبول به تر کومې کچې رسېږي؟!

دا نوې او حيرانوونکې پېښه نه ده، کيسه پخوانۍ ده، هماغه د زور او بدمعاشۍ کيسه، د سپکاوي، په ډالرو د پېر او پلور، په بوټونو او بوتلونو د ويشتلو، ګوزارونو او جنګونو کيسه! د پهلوانۍ او زور وهنې کيسه، بس يوازې څېرې نوې شوې، کيسه هماغه پخوانۍ ده.

---

## د ولسمشرۍ نوماندان: د غبرګولي تر لومړۍ نېټې وروسته ولسمشر غني د هر بحران مسوول دی



د ولسمشريزو ټاکنو نوماندان وايي، د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته، د ولسمشر غني کاري موده پای ته رسېږي او ستره محکمه دا صلاحيت نه لري، چې د هغه د واک موده وغځوي. تېره ورځ د ولسمشريزو ټاکنو نوماندانو يوه خبري غونډه لرله او په هغه کې يې له ولسمشر غني وغوښتل چې له واکه ګوښه شي. دغه نوماندان وايي، حکومت مسووليت درلود چې په خپل وخت ولسمشريزې ټاکنې ترسره کړي او زمينه ورته برابره کړي، خو دا چې ټاکنې ځنډېدلې دي، نو بايد موقت ولسمشر خپل کار پيل کړي.

د ولسمشريزو ټاکنو نوماند حنيف اتمر تېره ورځ په همدې تړاو جوړې شوې خبري غونډې ته وويل، ولسمشر غني د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته خپلې دندې ته ادامه نه شي ورکولی او بايد له واکه ګوښه شي. د نوموړي په خبره، د قانون له مخې ولسمشر د پنځم کال د جوزا تر لومړۍ نېټې ولسمشر دی او تر هغه وروسته به واک بل ولسمشر ته پرېږدي.

حنيف اتمر وايي چې ولسمشر د سترې محکمې په فرمان غواړي خپله کاري موده وغځوي، چې دا کار يې د ولسمشريزو ټاکنو نوماندانو او ولس ته د منلو نه دی.

حنيف اتمر په خپلو خبرو کې يو ځل بيا ټينګار وکړ، چې د حکومت چارې دې يوه موقت ولسمشر ته وسپارل شي. نوموړي په دې اړه زياته کړې: ((موږ دا وايو چې ولسمشر غني د جوزا تر لومړۍ نېټې ورهاخوا کار ته ادامه نه شي ورکولی. که هغه خپلې دندې ته ادامه ورکوي، نو بايد له خپلې نوماندۍ تېر شي او که غواړي چې د ولسمشريزو ټاکنو نوماند وي، نو بايد واک يوه موقت ولسمشر ته وسپاري)).

هغه ټينګار کړی چې ولسمشر غني او نږدې کسان يې دې له غير قانوني لارو د واک په ادامې سره د ولسمشرۍ څوکۍ ارزښت نه ټيټوي.

بل پلو د نوماندانو شورا بيا تېره ورځ د موقت حکومت طرحه د بهرنيو هېوادونو استازو ته وسپارله. په همدې مناسبت دغه غونډه د ولسمشريزو ټاکنو د نوماند احمدولي مسعود په کور کې جوړه شوې وه. په دغه غونډه کې د امريکا، بريټانيا، فرانسې، ايټاليا، روسيې، پاکستان، جاپان، هالنډ، هندوستان، تاجکستان، يوناما، ناټو، آغا خان بنسټ او د ولسمشريزو ټاکنو د نوماندانو شورا غړو ګډون کړی و. د احمدولي مسعود په خبره، دوی د قانون له مخې غواړي چې واک يوه موقت ولسمشر ته ولېږدول شي او هغه به ولسمشريزو ټاکنو ته زمينه برابروي.

د نوماندانو شورا د ټاکنو او سولې په برخه کې حکومت هم په کمکارۍ او بې کفايتۍ تورن کړ. د ولسمشريزو ټاکنو نوماند حنيف اتمر وويل، د قطر د سولې خبرې د حکومت د ناسم مديريت او بې کفايتۍ له امله له ماتې سره مخ شوې او دا به د هېواد راتلونکې ته ښې پايلې و نه لري.

بل پلو ولسمشرۍ ماڼۍ بيا د نوماندانو د تېرې ورځې پر خبري کنفرانس غبرګون ښودلی دی. د ولسمشر يوه وياند هارون چخانسوري ويلي، د ولسمشريزو ټاکنو نوماندانو کومه نوې خبره نه درلوده، بلکې تېرې خبرې يې تکرار کړې او له قانون سره په ټکر کې وې. د چخانسوري په خبره، د اساسي قانون د تفسير صلاحيت يوازې او يوازې له سترې محکمې سره دی او افراد نه شي کولی په خپل زړه اساسي قانون تفسير کړي.

نوماندان او حکومت داسې مهال يو بل له قانون څخه په سرغړونه تورنوي، چې څارونکي بنسټونه هم د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو او د حکومت د مشروعيت په اړه اندېښنه لري. دوی وېره ښيي چې ښايي د ټاکنو کمېسيون د ټاکنو په تنظيم بريالی نه شي او راتلونکې ټاکنې به تر تېرو ټاکنو لا له ستونزو او کشمکشونو ډکې وي.

---

## امريکايي اکسان موبېل شرکت له عراقه خپل ټول کارکوونکي ايستلي دي

په سيمه کې د امريکا او ايران ترمنځ د کړکېچ له زياتېدو سره، د امريکا يوه لوی شرکت د عراق د جنوب د تېلو له ساحې خپل ټول بهرني کارکوونکي ايستلي دي.

د عراق حکومت ويلي، د امريکا د تېلو لوی شرکت اکسان موبېل خپل بهرني کارکوونکي له عراق ايستلي، خو دا چاره به د دوی په خبره، د عراق په جنوب کې د تېلو او ګازو په توليداتو اغېز ونه کړي.

د عراق د تېلو وزير سامر غضبان د اکسان شرکت دا پرېکړه د نه منلو وړ بللې ده.

هغه ويلي، دا مسئله له امنيتي وضعيت او يا د عراق په جنوب کې له ګوابښونو سره تړاو نه لري، بلکې يوه سياسي پرېکړه ده.

غضبان ويلي، همدا اونۍ د اکسان موبېل له مشرتابه سره ګوري او له هغوی يې مخکې په يوه ليک کې غوښتي، چې ژر تر ژره خپل کار ته راوګرځي.

اکسان شرکت له بصرې نه خپل ٦٠ کارکوونکي چې اکثريت امريکايان دي، داسې مهال متحده عربي اماراتو ته انتقال کړي، چې د واشنګټن او تهران ترمنځ کړکېچونه زيات شوي او د يوه پوځي برخورد اندېښنې موجودې دي.

د عراق د جنوب د دولتي تېلو د برخې رييس احسان عبدالجبار ويلي، چې د اکسان موبېل د کارکوونکو وتل يو لنډ احتياطي کار دی.

هغه ويلي چې د اکسان شرکت عمليات په سيمه کې د عراقي تخنيکرانو په مرسته دوام لري.

نوموړي دغه راز زياته کړې: «دُبۍ ته د اکسان موبېل شرکت د کارکوونکو انتقال به په دې ساحه کې زموږ د تېلو او ګازو د توليد په وړتيا اغېز ونه کړي. همدا راز به زموږ په پلان شويو رغنيزو او انکشافي پروژو کوم تاثير ونه لري؛ ځکه دا ساحه اساساً د بصرې د تېلو د شرکت او اکسان موبېل په ګډه مشوره اداره کېږي».

د تېلو لوی امريکايي شرکت اکسان موبېل وروسته له هغه د ايران له ګاونډي عراقه خپل ټول ٦٠ بهرني کارکوونکي ايستلي، چې واشنګټن د ايران له لوري د احتمالي ګوابښونو له کبله په منځني ختيځ او فارس خليج کې خپل حضور زيات کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت تېره اونۍ په بغداد کې د خپل سفارت له کليدي کارکوونکو پرته، نورو ته امر وکړ چې له عراقه ووځي. بلخوا د امريکا د هوايي چلند اداري هم د جمعې په ورځ ټولو تجارتي هوايي شرکتونو ته ګواښ وکړ، چې د فارس خليج او عمان سمندر له سره په تېرېدو کې دې له بشپړ احتياطه کار واخلي.



## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### لسم څپرکی
### عمل مو عادت کړئ




دلته به وګورئ چې یوې ځواني جوړې څنګه ځان د سپما له منظم پلان سره برابر کړی دی. د بیل میاشتنی عاید پنځه سوه ډالره و، خو ده او مېرمن (جینیت) یې هره میاشت پنځه سوه ډالر مصرفول. دواړو ویل چې پیسې به سپموي، خو هر ځل به یې د ځینو دلایلو پر اساس ویل چې دا کار نه شو کولای. کلونه یې ځانته دا ژمنې ورکړې وې چې: څنګه چې معاش لوړ شو، دستي به سپما پیلوو؛ چې ستونزې حل شوې...؛ سبا، بل سبا ، بله میاشت، بل کال ، بل وخت ...)

بلاخره جینیت له دې حالته تنګه شوه، بیل ته یې وویل: (ګوره، ته ماته دا ووایه چې موږ سپما کوو که نه؟) هغه ورته وویل: (ولې یې نه کوو، خو ته خپله پوهېږې چې په دې حالاتو کې یو غیران هم نشو سپمولای.)

خو بیا هم جینیت هوډ کړی و چې هر څنګه وي، پیسې به سپموي. ورته وویل:
(موږ له کلونو ځان سره د پیسو سپمولو هوډ کوو، خو له دې امله یې نشو کولای چې وایو نه یې شو ګني کولای. راځئ اوس دا فکر وکړو چې کولای یې شو. نن سهار مې یوه خبرتیا ولوسته، پکې راغلي وو چې که موږ هره میاشت پنځوس ډالره وسپمو، نو پنځلسو کالو کې به نهه زره ډالر ولرو. خبرتیا کې دا هم راغلي وو چې له لګښت مخکې له عاید پیسې سپمول اسانه دي، خو له لګښت وروسته بیا په سختۍ پاتې کېږي. نو که ستا خوښه وي، ستا د عاید له لس سلنې به یې پیل کړو او له خپلو لویو لګښتونو به یې کمې کړو. کېدای شي د میاشتو په وروستیو ورځو کې یوازې شیدې او بسکیټ وخورو، خو بله لاره نشته، همدا به خورو.)

پر بیل او جینیت یو څو میاشتې فشار و، خو ډېر زر له خپل نوي عاید سره بلد شول. اوس دواړه په دې پوهېږي چې پیسې سپمول د لګولو هومره خوند کوي.

ملګرو ته لیکئ؟ همدا اوس یې ورته ولیکئ.

داسې مفکوره درغلې چې له کار سره مو مرسته کولای شي؟ همدا اوس یې عملي کړئ.

د بنجامین فرینکلن پر دې سپارښتنې ژوند وکړئ چې: (کوم کار چې نن کولای شئ، سبا ته یې مه پرېږدئ.)

دا یاد ساتئ. د (نن) فکر کارونه کوي او د (بیا، سبا، بل سبا...) فکر معمولاً ماتې ده.

یوه ورځ د خپلې یوې کاروباري ملګرې لیدو ته ورغلم، زه چې څنګه ورغلم دا هم له څو مدیرانو سره له جلسې راووته. ما چې ولیده، پوه شوم چې په زړه کې یې څه شته. په څېره کې یې خپګان له ورایه ښکارېدو.

ویل یې: (پوهېږې، نن مو جلسه د دې لپاره رابللې وه چې د شرکت د پالیسیو د بدلون په اړه د کارکوونکو نظر واخلم، خو څه فایده؟) شپږ کسان مې را غوښتي وو، یوازې د یوه نظر یې ښه و. دوو هماغه زما خبرې تکرار کړې، هسې لکه دیوال سره چې لګیا یم. که رښتیا درته ووایم د دې خلکو په فکر پوهېده راته سخت دي. ته څه وایې چې دوی به ګني داسې وغړېږي چې زه یې څنګه خبره واورم دستي به پرې پوهه شمه، خو دا خو پر دوی هم تاثیر کوي.)

زما ملګرې ته هغې جلسې هېڅ ګټه و نه کړه، خو که تاسې هم زما په څېر له جلسې وروسته تالار ته تللې وی، نو د ټیټ پوړو مامورینو له خولو به مو دا خبرې اورېدلې وی چې: (ما غوښتل دا ووایم چې... مانه خو هېڅا پوښتنه ونه کړه ... زه فکر نه کوم چې ... موږ باید مخکې لاړ شو... .)

د هغو خلکو په حال ژړا په کار ده چې په جلسې کې خوله نه پرانیزي او له جلسې وروسته ورسره بیا یو خروار خبرې او نظریات وي. د دوی (غر) هله راشي او خبرو سره یې شوق هله پیدا شي چې بیا اوبه له ورخه تېرې وي.

سوداګریز مدیران تل په نویو لارو چارو او وړاندیزونو پسې ګرځي. ځوک چې خپل نظریات پټوي، ځان سره هم ظلم کوي.

نو غږېږئ، نظرونه ورکوئ، په خبرو او بحثونو کې ګډون قوت درکوي، په خپلو رغنده نظریاتو مخکې لاړ شئ.

موږ ټول پوهېږو چې پوهنتون کې کنفرانسونه (کورنۍ وظیفه) څومره سخت وي. (جو) پرېکړه کړې چې له ماسپښین وروسته وخت مطالعې ته ځانګړی کړي. اوس به وګورو چې دا ماسپښین څنګه تېرېږي:

جو وایي د ماښام اووه بجې به درس پیلوي، خو دا چې دستي یې ډوډۍ خوړلې، نو ښه به دا وي چې لږ تلویزیون وګوري. تلویزیون کې سریال پیل شوی او څو دقیقې یوه ساعت ته ورسېدې. اته بجې چې څنګه مېز ته کېني، سم دستي وریاد شي چې نن خو یې خپلې ملګرې سره د خبرو ژمنه کړې، نو سمدستي پاڅېږي او خپلې ملګرې ته زنګ وهي. دا خبرې څلوېښت دقیقې اوږدېږي، ځکه مینه ده نو ... بیا چې خبرې ختمې شي وایي راځه لږ وګرځه، بهر چې وګرځي او بېرته چې کور ته راشي وایي: زه خولې شوی یم، نو لږ به ولامبم، چې وبې لامبل بیا یخچال ته ورځي، ځکه له ګرځېدو وروسته انسان وږی کېږي. نو د ده د مطالعې پلان داسې شي، بیا چې اخره کې د شپې ناوخته یو څو دقیقې کتاب پرانیزي، هېڅ یې په ذهن کې نه کېني، ځکه ذهن یې ګنګس وي. سترګې یې ډکې ډکې کېږي، بلاخره ویده شي... . سبا به استاد ته وایي: (استاده لږه ګوزاره راسره وکړئ، بېګا تر دوو بجو مې امتحان ته درس ویلی دی.)

**دوام لري...**

# بروس لي

◄ شفیق امیرزی

د سپورټ او سینما په نړۍ کې بروس لي پېژندل شوی نوم دی. بروس لي د سپورټ په نړۍ کې نوي تکنیکونه وکارول او وروسته یې دغو تکنیکونو ته د جیټ کاندو نوم ورکړ. دغه تکنیکونه او د دغه سبک سپورټ تمرینونه اوس هم په نړۍ کې مینه وال لري او مخ ته وړل کېږي. د دغه سپورټ ډېری مینه وال ځوانان دي. بروس لي نه یوازې په سپورټي نړۍ، بلکې په سینما او فلمي برخه کې هم پوره شهرت لري.

لي جن فان پر بروس لي مشهور دی. هغه د رزمي سپورټ استاد، د اکشن فلم لوبغاړی، د فلسفي نظریاتو استاد، شاعر او د جت کان دو رزمي سپورټ بنسټګر دی.

بروس لي د کالیفرنیا په سانفرانسیسکو کې د چینایانو په یوه محله کې زیږېدلی دی، خو په هانګ کانګ کې لوی شوی دی. اتلس کلن و چې بېرته امریکا ته لاړ او په سانفرانسیسکو کې یې زده کړې پیل کړې. وروسته د هالیووډ او هانګ کانګ په فلمونو کې د نوموړي رول، د هغه د شهرت لامل شو.

بروس لي له دیارلس کلنۍ له ییپ من د کونګ فو تمرین پیل کړ. وروسته چې کله امریکا ته لاړ، هلته یې د جان فن کونګ فو په نوم سپورټ پیل کړ. هغه سره له دې چې په وینګ چینګ کې یې تمرین کړی و، خو په سپورټ کې یې د یوه سبک کارول مناسب کار نه باله. هغه د دې پلوی و، چې په یوه سپورټ کې باید د بېلو سپورټونو ټول اغېزناک تکتیکونه او تخنیکونه وکارول شي. هغه د سپورټ او بېلو سپورټي لوبو په اړه معلومات لرل، له همدې امله یې کوښښ کاوه چې بېل سپورټونه سره ترکیب کړي. هغه د ډېری شرقي او غربي سپورټونو په اړه کافي مطالعه او مشاهده کړې وه. هغه به ویل، انسان باید له ټولو رزمي تکنیکونو د خپلې دفاع او مبارزې لپاره کار واخلي. د سپورټ شاګرد ته باید دا نه وي مطرح چې دا د کوم سپورټ تکنیک دی او په بل کې باید ونه کارول شي.

د بروسلي فلمونه په لوېدیځ کې تر دویمې نړیوالې جګړې ۲۵ کاله وروسته راڅرګند شول. دا هغه مهال و، چې د دغه ډول فلمونو لپاره فضا کاملاً مناسبه وه. ډېری خلکو له سپورټ، رزمي لوبو او ورته هنرونو سره مینه لرله. بل په دې وخت کې د بروسلي د فلمونو راوتلو سینما ته په نړۍ کې ځانګړی ځای او برم ورکړ. هغه وخت ټولنیزې رسنۍ او انټرنېټي شبکې نه وې چې فلمونه ننداره ته وړاندې شوي وای، نو ځکه خلک د سینما تالارونو ته تلل. سینما بروسلي او بروسلي سینما ته ځانګړی شهرت ښښلی و. له همدې امله بروسلي نن هم د سینما او سپورټ په نړۍ کې پر اسطورويي شخصیت مشهور دی. ډېر خلک یې انځورونه ورسره ګرځوي او د هغه د تکتیکونو او څېرې تقلید کوي.

بروس لي د ۱۹۴۰ ز کال په نومبر کې، د چینایي دود له مخې د ښامار په کال کې زیږېدلی دی. پلار یې لي هو چین نومېده او د چین و، خو مور یې کاتولیکه وه او د المان له چینایانو وه. بروسلي چې د دریو میاشتو شو، نو کورنۍ یې له امریکا هانګ کانګ ته کډه شوه.

د بروس لي کوچنی کورنی نوم، جان فان و. بروس لي چې په روغتون کې وزیږېد، نو د هغه روغتون ډاکټر بروس انګلیسي نوم ورباندې کېښود. د بروس لي مور په لومړي سر کې له انګلیسي نامه سره مخالفه وه، خو وروسته یې موافقه ورسره وکړه او دغه انګلیسي نوم یې ورته خوښ کړ. خو له دې سره د هغه انګلیسي نوم ډېر وخت د هغه له کورني نوم سره یاد نه شو. بروس لي بیا زده کړې پیل کړې او له خپل ښوونځي وروسته، د پوهنتون د رزمي سپورټونو د ټیمونو غړی و او په همدې نامه یعنې بروس لي مشهور شو.



بروس لي په ۱۹۳۵ ز کال کې له خپل ښوونکي او روزونکي سیفو ییپ من د وینګ چون کانګفو زده کړه پیل کړه. ویل کېږي چې په ځوانۍ کې به یې ډېرې شخړې کولې، خو هغه دغه خبرې رد کړې دي. ده به ویل چې هېڅ وخت یې زور زیاتی او تشدد نه خوښېده، خو پر خپل سپورټ مین و.

وروسته په هانګ کانګ کې وضعیت خرابېږي او شخړې رامنځ ته کېږي. نو ځکه د بروس لي پلار په ۱۹۵۹ ز کال کې پرېکړه کوي، چې بېرته امریکا ته ستون شي. له ده سره یې کورنۍ هم ځي او بروس لي اړ کېږي چې خپلې زده کړې په هانګ کانګ کې نیمګړې پرېږدي او په امریکا کې یې له سره پیل کړي. په امریکا کې له مېشتېدو سره سم، بروس لي د خپل پلار له یوه ملګري سره مېشت شو. دی دومره شتمن نه و، نو دا چې په پردي کور کې اوسېدو، اړ و چې ځان ته پیسې او ډوډۍ وګټي. وروسته یې د خوړو او شیرینیو په دوکان کې کار وموند. څه موده یې همدلته کار وکړ، بیا د دوکان خاوند اجازه ورکړه چې په دویم پوړ کې مېشت شي او شپه هلته تېروي. همدلته یې له کار سره هممهاله په ایدیسون تکنیکل ښوونځي کې زده کړې هم کولې، تر دې چې له همدې ښوونځي فارغ شو. له ښوونځي او کار سره یې جوخت هڅه کوله چې کونګفو یې هم پیاوړې شي، نو د خپل سپورټ تمرین یې نه پرېښود. بیا یې په دې برخه کې استادي پیل کړه چې هم یې ترې ډوډۍ پیدا کوله او هم یې خپل تمرینات مخ ته وړل.

بروس لي چې کله په لومړي سر کې امریکا ته دننه شو، نو د خپل ژوند د مخ ته بېولو لپاره یې په رسټورانټ کې کار کاوه، خو یو اشپز سخت ورسره مخالف و. وروسته یې دېته اړ ایست چې خپل کار پرېږدي. بیا یې په ښار کې د ورځپاڼو وېشل پیل کړل. همدا یې کار شو، د ورځې به یې ورځپاڼې په کوڅو او سړکونو کې وېشلې او د شپې به یې خپل درسونه تکرارول. وروسته پر دې بریالی شو، چې واشنګټن پوهنتون ته ومنل شي.

تر یو څه مودې وروسته، بروس لي په امریکا کې د چینایي وګړو له سخت مخالفت سره مخ شو. دوی به نوموړي ته ویل چې امریکایانو او نورو بهرنیانو ته دې روزنه نه ورکوي. خو بروس لي پر خپله پرېکړه ټینګ ولاړ و. دوی د سپورټځای د بندولو غوښتنه کوله، خو یو مهال دې پرېکړې ته ورسېدل چې د وانګ جک مان په نامه یو کس د بروس لي جګړې او مقابلې ته ولېږي. دوی دواړو مبارزه وکړه چې په همدې مبارزه کې وانګ سخته ماتې وخوړه.

بروسلي د وانګ تر ماتولو وروسته نور هم مشهور شو. ځکه وانګ په هغه وخت کې یو پیاوړی رزمي سپورټي کس و. هغه ډېرې سیالۍ ګټلې وې. وروسته بروس لي پرېکړه وکړه چې د کراټې په سیالیو کې به برخه اخلي. په ۱۹٦۴ ز کال کې په لانګ بیچ سالون کې نوموړی د نندارچیانو په مخ کې راڅرګند شو. هغه څو پر له پسې نمایشي حرکتونه ترسره کړل او ټول یې ځان ته حیران کړل. له دې وروسته د بروس لي نوم د هر چا په ژبه و او هغه ته یې د یوه اتل په سترګه کتل.

په لانګ پیچ کې د ننداري پر مهال تصادفاً د فلمونو یو ډایرکټر هم په سالون کې و. هغه له بروس لي سره د لیدنې په موخه نږدې ورغی. له ده یې وغوښتل چې د شنې مچۍ په نامه سریال کې ولوبېږي. بروس لي هم دا خبره ومنله. دا نو سینما ته د نوموړي د ننوتلو پیل او لومړنی ګام و. دا باید هېره نه کړو، چې بروس لي په ماشومتوب کې هم په ځینو فلمونو کې رول ادا کړی و، ځکه پلار یې په سینما کې کار کاوه.

بروس لي په امریکا کې د شنې مچۍ، مارلو سینمایي فلم، لانګ سټریټ سریال او دېته ورته فلمونو او سریالونونو تر جوړولو وروسته، هانګ کانګ ته د تګ پرېکړه وکړه. هغه په هانګ کانګ کې په فلمونو کې لوبېدل پیل کړل او د خپلو خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شو. د چین مشهور فلم جوړوونکي لو وي هغه ته د رول لوبولو فرصت برابر کړ او هغه وو چې څه موده وروسته د نوموړي فلمونه د هانګ کانګ تر ټولو ډېر پلورل شوي فلمونه شول.

د دغو فلمونو تر جوړولو وروسته، ټوله نړۍ پر دې قانع وه چې بروس لي د نړۍ تر ټولو پیاوړی رزمي لوبغاړی دی. همدا راز په سینمایي نړۍ کې هم مشهور شوی و، نو ځکه یې پرېکړه وکړه، چې پخپله د فلم خپرولو یوه کمپنۍ جوړه کړي. په ۱۹۷۲ ز کال کې یې د کنکورد په نامه د فلم جوړونې یو شرکت جوړ کړ. هغه پخپله د (ښامار لار) او (د ښامار راګرځېدل) فلمونه ډایرکټ او جوړ کړل. دغو فلمونو د پلور له اړخه د بروس لي د ټولو فلمونو د پلور رېکارډ مات کړ.

بروس لي نه یوازې دا چې د سپورټ او سینما وتلی لوبغاړی و، هغه په فلسفه او شعر کې هم لاس درلود. هغه فلسفه لوستې وه، خو شعر یې پخپله خوښه او ذوق لیکه. مطالعه یې د سپورټ تر څنګ د خوښې کار و. تل به یې د سپورټ او فلسفې په اړه کتابونه مطالعه کول.

بالاخره د سپورټ او سینما دغه مشهور ستوری په مرموزه توګه وژل کېږي. تر نن پورې د هغه د وژل کېدو لامل نه دی روښانه شوی. ځینې کسان وایي چې هغه د کورنیو ستونزو له امله ووژل شو. ځینې بیا وایي چې هغه د هالیووډ د لوبغاړو د حسادت له امله په مرموزه توګه وژل شوی، خو ځینې بیا وایي چې هغه د ملا په مهرو کې ستونزه درلوده. ډاکټرانو هغه له سپورټه راګرځولی و، خو ده به د درد ضد ډېرې دواګانې کارولې او د همدې له امله مغزي تورم یا پړسوب ورته پیدا شو. هغه تر مرګ مخکې د یوې تالینډي الاصله هنرمندې بتي تینګچې په کور کې و. ناڅاپه سخته سردردي ورباندې راغې. بتي د درد قوي ګولۍ ورکوي، خو وروسته هغه په ژور خوب ویده کېږي. له دې سره جوخت روغتونه ته وړل کېږي. څو ساعته وروسته ثابتېږي چې مغزي پړسوب ورته پیدا دی او د مغز په سلولونو کې یې اوبه ټولې شوې دي. نوموړی د ۱۹۷۳ ز کال د جولای په شلمه د ۳۳ کلونو په عمر مړ کېږي. د نوموړي په اړه څېړنې ښيي چې په معده کې یې څو شاهدانې او د درد قوي ګولۍ پیدا شوې دي. له همدې امله مړ شوی دی او مغزي تورم ورته بیدا شوی دی.

د بروس لي د مرګ پر مهال یې زوی اته کلن و. خو د ده تر مرګ شل کاله وروسته یې زوی هم په مرموزه توګه وژل کېږي. د بروس لي مېرمن وایي، هغه نه غوښتل چې د خپل قدرت او فزیکي پیاوړتیا زوال ووینې. نو ځکه به یې تل ویل چې په ځوانۍ کې مرګ غواړي. نوموړي به ویل، که همدا اوس هم مړ شي، نور ارمان نه لري، ځکه خپلو هیلو ته رسېدلی دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۲۰ |
| € | ۸۸,۵۰ |
| Rp. | ۵۳۸ |
| ₹ | ۱۱۲۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شميري

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# ولې استراحت خوښوونکي کسان تر ټولو پياوړي دي؟

ژباړه: امان الله«حنيفي»

موږ ډېری انسانان رښتيا هم تنبل(استراحت خوښوونکي) يو او له دې ځورېږو هم، خو هر وخت تنبل اوسېدل بد نه دي. راځئ داسې تصور وکړئ، چې يوه ورځ کاملاً هرڅه پرېږدئ، خطر لرونکي پېښې مو له ذهن څخه وباسئ، د خوب پر کټ اوږده وغځېږئ، ښه مطلب لرونکی داستاني فيلم وگورئ او يا هم کتاب ولولئ. اوس به نو څه ټکه راولوېږي، که يوه اونۍ همداسې کار وکړی؟

کېدای شي تاسې هم د هغو کسانو له ډلې ياستی، چې د طبيعت ښکلو ځايونو ته د چکر پر ځای، په کور کې پاتې کېدل او د پيېزا خوراک مو خوښېږي. که تاسې رښتيا هم له دې ډلې کسانو ياستی، کېدای شي پر دې پوهېدل درته ډېر جالب وي، چې تاسې تنبل او استراحت خوښوونکی کس کولای شی ځان پر نوښتگر او متفکر کس بدل کړی.

تر ټولو جالبه دا ده، چې دغه څه مصنوعي نه دي، بلکې د نړۍ پوهانو او عالمانو په اثبات رسولي دي.

تنبلي(استراحت) يو هېر شوی هنر دی، البته له تنلۍ مو موخه د وخت بې ځايه تېرول نه دي. دلته مو موخه ترې بېکاري او په هغه مهال کې استراحت کول دي. مانا دا چې ځينې وخت هېڅ کار ونه کړو او خپل ذهن ارام کړو.

د بې ځايه او بې مانا فکرونو په نړۍ کې، موږ هر وخت د خپلو افکارو لمن نيسو او په بدل کې يې خپل وخت هسې ضايع کوو. موږ خپل حواس ډېر وخت د بې ارزښته مسايلو په اړه مصرفوو، لومړی ايميل چک کوو، بيا د نيمگړي خبر پر لور ورځو، وروسته هسې بې ځايه په ټولنيزو رسنيو کې ځان مصروفوو او دا کار مو هر وخت همداسې چرخ وهي. دغه کارونه هره ورځ تکرار وو، خو پايله يې موږ ته هېڅ گټه نه لري او هماغه وي چې موږ د تېر په نسبت ورو ورو خسته او تر فشار لاندې کوي.

په ډېری مواردو کې نه يوازې دا چې موږ پر موضوع تمرکز نه لرو، بلکې ډېر اسانه خپل تمرکز له لاسه ورکوو. پر ځانگړې موضوع تمرکز، زموږ توجه او د فکر قوت پر يوه نقطه راټولوي او په دې ډول مو ذهني ليد پراخېږي، چې بيا يې پايلې زموږ لپاره ډېر ارزښتناکې او خوشاله کوونکې وي. په همدې ډول، موږ د ځان لپاره موخه ټاکو او ورو ورو د هغه پر لور گامونه اخلو. هماغه دي چې بيا له خوندورو او مانا لرونکو پايلو سره مخ کېږو.

څېړنو ښودلې چې د تمرکز نه لرل که په هر صورت هم وي، بيا هم دا يو پياوړی ځواک دی. تمرکز زموږ د کار پايلې دوه برابره کوي، خو په ورته وخت کې بيا د تمرکز نشتون په ډېرو برخو زموږ د نوښت او خلاقيت باعث هم کېږي.

پر اخري خلاق فکر مو بيا مرور وکړئ، که تاسې هغه وخت پر موضوع تمرکز درلود، د دغه فکر د ايجاد لپاره تاسې ته څومره فرصت برابر و؟ ممکن هغه وخت تاسې په هېڅ کومه موضوع تمرکز نه درلود، ممکن تاسې د سونا حوض ته تللي ياستی، قدم مو وهلی وي، ممکن د يو تاريخي ځای ليدو ته تللي ياستی، د ساحل غاړه کې مو لمر ته ارام کړی وي او يا مو هم کتاب لوستی وي او وروسته مو ذهن کې د الماسک په څېر کومه ايډيا رامنځ ته شوې وي.

پوهېږی، ولې ستاسې ذهن د دغو ايډياوو د پيدا کولو لپاره دغه ډول صحنې غوره کوي؟ په دې اړه يو اساسي دليل شته. کله چې زموږ توجه استراحت کولو ته وي يا ارام کوو، هغه وخت مو ذهن د نويو او خلاقو ايډياوو په لټه کې وي. په دې اړه نوې پلټنې شوې دي. څېړونکو د خلکو اذاهان په داسې وخت کې، چې هغوی فکر کوي سترړي او يا هم تنبل دي، بررسي کړي دي. د دې ارزونې پايلو ښودلې چې د انسان ذهن د استراحت په وخت کې هم مصروف وي. د دې څېړنې په اساس، د استراحت په وخت زموږ ذهن ۴۸ سلنه د راتلونکي، ۲۸ سلنه د اوسمهال او ۱۲ سلنه هم د تېر وخت په اړه لگيا وي.

د ذهن له سل سلنې برخې چې کومه برخه يې پاتې کېږي، هغه معمولاً خالي وي او د څېړونکو له نظره چنداني ارزښت هم نه لري. خو د دغه پاتې او خالي برخې په مقابل تېرېدونکی وخت بيا ډېر ارزښت لري او تر هغې چې موږ فکر کوو، همداسې بې ځايه تېرېږي. زموږ تنبل او بېکاره ذهن(استراحت خوښوونکی) د ځينو کارونو په سرته رسولو کې مهم او اغېز لرونکی دی:

کله چې زموږ ذهن پر ارامۍ او استراحت کولو باندې متمرکز کېږي، هغه وخت موږ رښتيا ارام يو. کله چې ذهن ته د فکر کولو اجازه ورکوو، نور موږ اړ نه يو چې هغه ته توجه وکړو. همدا چاره زموږ د انرژۍ د را ژوندي کولو باعث کېږي او له موږ سره مرسته کوي، چې په نورو شرايطو کې له دې هم ژور او عميق فکر وکړو.

د خپلې ټولې انرژۍ لاسته راوړل، انسان ته ډېره خوشالي ورکوي، چې دا بيا له موږ سره د کارونو په اسانه، په ښه ډول او ارام ذهن سرته رسولو کې مرسته کوي.

د خپلې ټولې انرژۍ د لاسته راوړلو لپاره کولای شو، د يو نوي څه په اړه فکر وکړو، د موسيقۍ له اورېدو پرته قدم ووهو، قهوه خانې ته لاړ شو او دېته ورته ځينې نور کارونه کولای شو. څېړنو ښودلې چې حتی موږ په پرله پسې ډول د يو کار له سرته رسولو هم کولای شو نوې او خلاق ايډياوې پيدا کړو.

څېړنو ښودلې چې زموږ انسانانو ذهن، د خپگان او پرېشانۍ پر مهال، د ارامۍ او استراحت په پرتله ۱۴ ځلې زيات د راتلونکي په اړه فکر کوي. همدارنگه هرکله چې زموږ ذهن په استراحت کولو متمرکز وي، اووه ځلې زيات د راتلونکو اوږدمهاله موخو په اړه فکر کوي. البته د موخو د لاسته راوړلو يا ورته رسېدو پر لار عمل کول بيا جلا داستان لري؛ خو ځينې وخت همدا تنبل ذهنيت مانا ارامي خوښوونکی ذهن، ځينې وخت زموږ لپاره گټور هم دی. همدا ذهنيت له موږ سره د موخو په مشخص کولو کې مرسته کوي او بيا ورته رسېدل مو خپل لومړيتوب ټاکي.

د استراحت پر مهال زموږ ذهن کېدای شي، په يو وخت کې له دريو ذهني موخو (تېر، اوسمهال و راتلونکي) سره پيوست شي. په داسې وخت کې زموږ په ذهن کې د هغه په پرتله چې موږ پر يوه موضوع تمرکز کوو، ډېرې نوې او خلاقې نظريې خطور کوي. د بېلگې په ډول، کېدای شي په يو ارام چاپېريال کې هغه نظريه چې تېره اونۍ زموږ ذهن کې وه، خپل ذهن کې راوړو او په اوسنيو شرايطو کې د يو کار د حل لپاره له هغه څخه گټه واخلو. ډېری وخت نوې او ارزښت لرونکې ايډياوې هغه وخت زموږ ذهن ته راځي، کله چې موږ ارام او نامتمرکز ذهن ولرو. له دغه فرصته د لا ښې گټې اخيستو لپاره، مهمه ده چې موږ هر وخت له يو څه کار کولو وروسته خپل ذهن ارام کړو او خپله دا چانس ځان ته برابر کړو.

استراحت کول، ډېر وخت له موږ سره د کارونو په ښه سرته رسولو کې مرسته کوي. کېدای شي د بېکارۍ پر مهال موږ داسې فکر وکړو، چې اوس کوم کار نه کوو، خو اصلاً داسې نه ده. که له همدغه وخت څخه په ښه توگه استفاده وکړو، تر هرڅه به يې موږ ته گټه زياته وي.

## اروزگانيان: په جگړه کې د وژل شوو سرتېرو مړي مو په وخت نه راته سپارل کېږي

د اروزگان په امنيتي ارگانونو کې د وژل شوو سرتېرو کورنۍ او وارثين شکايت کوي، چې د وژل شوو غړو جسدونه يې په ورځو ورځو د جگړې په ډگر کې پاتې وي او په وخت ورته نه سپارل کېږي.

دوی دغه څرگندونې په امنيه قوماندانۍ کې د وژل شوو پوليس سرتېرو له کورنيو سره د مرستې په مراسمو کې کړې دي.

د اروزگان د دهراوود ولسوالۍ اوسېدونکي عصمت الله چې د خپل وژل شوي کاکا د اکرامېې تر لاسه کولو په موخه راغلی و، پژوک اژانس ته ويلي، يو کال مخکې يې کاکا د يادې ولسوالۍ په چتو سيمه کې د طالبانو په بريد کې ووژل شو.

هغه زياته کړې چې کاکا يې په پوليسو کې دنده لرله، شل ورځې د جگړې په سيمه کې پروت و، خو جسد يې چا ورته نه انتقالاوه.

عصمت الله ويلي، دوی به هره ورځ په سيمه کې له امنيتي مسوولينو غوښتنه کوله، چې د کاکا جسد يې ورته ولېږدوي، خو مسوولينو د الوتکې د نشتوالي شکايت او نورې پلمې کولې.

د نوموړي په خبره، دا ډول ستونزې پر امنيتي ارگانونو د خلکو بې باوري زياتوي او زړه نه ښه کوي چې په امنيتي ارگانونو کې دنده ترسره کړي.

د پوليسو په ليکو کې د وژل شوو سرتېرو وارثينو ويلي، زيات وخت هغوی اړ وي چې په سيمه کې د سره صليب له کارکوونکو د هغوی د وژل شوو خپلوانو د انتقال غوښتنه وکړي.

د اروزگان امنيه قوماندان سمونوال خطاب خنجري بيا ويلي، د سرتېرو کورنيو ته د هغوی حقوق پر وخت ورکول، د دوی له لومړيتوبونو دي.

هغه زياته کړې چې په مرکز ترينکوټ او ولسواليو کې ډېری داسې کسان د پوليسو په ليکو کې وژل شوي، چې هېڅ له هغوی سره ثبت او رسميت يې نه درلود او د ډېرو وژل شوو پوليس سرتېرو هويت او د کورنۍ غړي يې نادرکه دي.

امنيه قوماندان ويلي، له دغو ستونزو سره سره بيا هم دوی هڅه کړې، چې له بېلابېلو لارو د شهيدانو وارثين پيدا او حق يې ور ورسوي.

خنجري زياته کړې چې ډېری وخت د هغوی د کورنۍ غړي چې د پوليسو په ليکو کې وژل کېږي، د سره صليب د کارکوونکو په مرسته تر هغوی پورې رسول کېږي.

## يوناما: فساد لاهم د افغان سولې پروسې په مخ کې اساسي خنډ دی

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو مرستندويه ماموريت يا يوناما په خپل نوي راپور کې ويلي، چې له اصلاحاتو سره سره، لا هم فساد د افغان سولې په لاره کې اساسي خنډ دی.

په افغانستان کې د يوناما استازې رومانا شوايگر تېره ورځ خبرياﻻنو ته ويلي، چې افغان حکومت د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره پرله پسې هڅو او تمرکز ته اړتيا لري.

نوموړې ويلي: «په رښتيني ډول د فساد پر وړاندې مبارزه د افغانستان لپاره يوه اساسي اړتيا ده. ملگري ملتونه له فساد سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان د پرمختگ هرکلی کوي، خو ټول افغان بنسټونه او د ټولنې هره برخه بايد هڅې وکړي، څو په افغانستان کې رښتينولي، روڼتيا او حساب ورکول پراخ شي».

د يوناما په دغه راپور کې ويل شوي چې فساد د قانون حاکميت کمزوری کوي او د لا زياتو جرمونو لپاره لار هواروي.

په راپور کې د ځينو سپارښتنو ترڅنگ ويل شوي، چې د فساد پر وړاندې په مبارزه کې د حکومت روانو هڅو تر اوسه د ډېرو افغانانو پر ژوند اغېز نه دی کړی.

په راپور کې يوه مهمه سپارښتنه د افغانستان لپاره د فساد په برخه کې د اوږدې مودې ستراتېژۍ رامنځته کول، په دې هدف دي چې د اصلاحاتو پخوانۍ هڅې او لاسته راوړنې دوام پيدا کړي او له فساد سره د مبارزې لپاره د خلکو مخ پر زياتېدونکې لېوالتيا پياوړې شي.

دا په داسې حال کې ده چې تردې مخکې افغان حکومت ويلي وو، چې په هېواد کې د فساد پر وړاندې د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز له جوړېدو تر دې دمه، د لوړ رتبه دولتي مامورينو په گډون، ۲۱۲ تنه په مجازاتو محکوم شوي دي، خو د شفافيت د څار بنسټ ويلي چې حکومت بايد د هغو فاسدو چارواکو پر ضد چې د لوړو سياسي ځوکيو له ملاتړه برخه من دي، اقدام وکړي.

د دغه بنسټ د اړيکو او عدالت غوښتنې برخې مسوول محمدناصر تيموري ازادي راډيو ته ويلي، سره له دې چې حکومت له فساد سره مبارزه تر يوه حده کړې، خو په خبره يې لا هم بنسټيزه شوې نه ده.

هغه زياته کړې: «اساسي ستونزه دا ده چې د ملي وحدت په حکومت کې له فساد سره مبارزه بنسټيزه شوې نه ده، چې دا مبارزه د بنسټونو له خوا تر سره شي او همدارنگه له فساد سره د مبارزې لپاره يوه قوي سياسي اراده موجوده نه ده».

بلخوا لويې څارنوالۍ هم ويلي، دوی د حکومتي چارواکو په گډون، قانون په ټولو يو شان عملي کوي او يوازې په تېر لمريز کال کې يې په دې برخه کې له ۴۲ زرو ډېرو قضيو ته رسېدنه کړې ده.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د غویي ۳۱مه | د ۲۰۱۹ د مې ۲۱مه | درېیم کال | ۳۷۷یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳۲ | ۳۱ | ۳۷ | ۳۷ | ۳۰ |
| ۱۵ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۱ | ۲۳ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۷ | لمر ختل ۰٤:٤٨ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیګر ۰۳:۳٦ | ماښام ۰٦:۵۷ | ماخوستن ۰۸:۳۳

سه شنبه ۱۳۹۸/۲/۳۱
د سهار اذان ۰۳:۰۷ د ماښام اذان ۰٦:۵۷
رمضان کریم

## نړۍ



# امریکايي اکسان موبیل شرکت له عراقه خپل ټول کارکوونکي ایستلي دي

۳

## باشنده‌گان غور: اعتصاب معلمین اطفال ما را بی سرنوشت ساخته است



شماری از شهروندان ولایت غور می‌گویند که اعتصاب کاری معلمین سبب شده که اطفال آنها بی سرنوشت و از آموزش باز بمانند.
این در حالی است که معلمین مکاتب شهر فیروزکوه از چهار روز به این‌سو، به دلیل ناچیز بودن حقوق و امتیازات شان دست به اعتصاب کاری زده اند و دروازه های مکاتب را به روی دانش آموزان بسته اند.
با این حال، این کار معلمین نگرانی شهروندان فیروزکوه را به همراه داشته است؛ آنچنان که این شهروندان می گویند که از چند روز به این‌سو اطفال شان به دلیل اعتصاب کاری معلمین از آموزش بازمانده اند .
این شهروندان از حکومت می‌خواهند که مشکل معلمین را به زود ترین فرصت حل نماید تا اطفال آنان بتوانند به آموزش دسترسی پیدا نمایند.
حاجی سلطان محمد رئیس شورای شهر فیروزکوه به آژانس خبری پژواک گفته است: «باور کنید یک وضعیتی است به داخل شهر اطفال می آیند دم مکتب، وقتیکه مکتب بسته است به سرک بیرون می‌شوند و یا در کوچه ها می‌گردند، باید توجه صورت گیرد».
ذاکر یکی دیگر از شهروندان فیروزکوه که سه طفل دارد گفته است که اطفالش از چند روز به این‌سو به دلیل بسته بودن مکاتب به خانه سرمیبرند.
وی افزوده است: «طفل‌های ما چهار روز شده که خانه هستند، این کار باعث ناکامی آنها در امتحان ها می‌شود، دولت برای حل مشکل معلمان توجه کند». معلمین ولایت غور همچنان تأکید دارند تا زمانیکه حکومت به خواست‌های شان رسیدگی نکند، دست از اعتصاب کاری بر نمی‌دارند.
حنیف احمدی استاد لیسه سلطان شهاب الدین غوری، به پژواک گفت که آنان نمی توانند به امتیاز اندک به فکر آرام به آموزش اطفال مردم بپردازند.

## د تاجکستان په یوه زندان کې د نښتو له کبله ۳۲ تنه وژل شوي دي



د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبې کې په یوه زندان کې د ناوټریخوالي له امله ۳۲ تنه وژل شوي دي
د دغه هېواد د عدلیې وزیر ویلي، یاده پېښه په دغه زندان کې د داعش وسله والو زندانیانو تر بلوا پیلېدو وروسته رامنځته شوې ده.
دغه زندان چې تر ډېره سیاسي او یا له داعش ډلې سره د تړاو په تور نیول شوي کسان پکې بندیان دي، د دغه هېواد د پلازمېنې دوشنبې په لس کیلومترۍ کې د وحدت په نوم سیمه کې تر سختو امنیتي تدابیرو لاندې موقعیت لري.
د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، په وژل شوو کسانو کې درې تنه د زندان ساتونکي او ۲۹ زندانیان شامل دي.
د تاجکستان د عدلیې وزیر ویلي، د داعش وسله والو زندانیانو چې په چړو او چاقوګانو یې ځانونه سمبال کړي وو، لومړی د زندان درې ساتونکي او پنځه زندانیان وژلي او وروسته یې په زندان کې بلوا پیل کړې ده.
نوموړي زیاته کړې چې وروسته ۲۴ نور بلواګر زندانیان د پولیسو لخوا وژل شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د دغه هېواد ډېری وګړي په سوریه او عراق کې له داعش ډلې سره یو ځای شوي دي.
تاجکستان څه موده مخکې داعش ډله د یوې تروریستي ډلې په توګه اعلان کړه او په خپل هېواد کې یې د دې ډلې پر فعالیت باندې بندیز ولګاوه.
د یادونې ده چې تېر کال هم د دغه هېواد په یوه زندان کې د ورته پېښې پر مهال ۲۹ زندانیان وژل شوي وو.

## چین: امریکا دې په جنوبي سمندر کې له پاروونکو اقداماتو ډډه وکړي



چین امریکا ته خبرداری ورکړی چې په جنوبي سمندر کې د دغه هېواد اوبو ته نږدې، له پاروونکو اقداماتو ډډه وکړي.
د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند ګېنګ شوانګ په یوه خبري ناسته کې له امریکا غوښتي، چې د چین تر کنټرول لاندې اوبو کې د له نورو پاروونکو اقداماتو لاس واخلي.
د چین دغه خبرداری په داسې حال کې دی، چې تر دې وړاندې د امریکا د سمندري ځواکونو قوماندان جان ریچاردسن ویلي وو، چې د چین له مخالفت سره سره به امریکا په یاده سیمه کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.
نوموړي د چین په خبره، د پاروونکو اقداماتو تورونه رد کړي او زیاته کړې یې ده چې امریکا به په نړیوالو اوبو کې خپلو ګزمو ته دوام ورکړي او په خبره یې چې هېڅوک نه شي کولای چې د دوی د دغه کار مخه ونیسي.
دا په داسې حال کې ده چې دا په روان کال کې درېیم ځل دی، چې امریکايي بېړۍ د چین تر کنټرول لاندې اوبو ته ننوځي.
د ارام سمندرګي دغه برخه چې چین یې د ملکیت ادعا کوي، وخت ناوخت د دواړو هېوادونو ترمنځ د مخالفتونو پر ځای بدله شوې ده.
متحده ایالتونه دغه سیمه د نړیوالو اوبو په نوم یادوي او ټینګار کوي چې په دغو اوبو کې هېڅوک حق نه لري، چې د امریکايي بېړیو د تګ مخه ونیسي.

## ژوند

## د ستونزو د حل لپاره له ۸۰/۲۰ قانون څخه ګټه واخلئ




له۸۰/۲۰ قانون څخه په شخص او شغلي ستونزو کې ګټه اخیستل کېږي، دا په دې مانا دی، چې ۸۰ سلنه ستونزې، د سختیو، ډار او وهم له کبله دي، یعنې داخلي ستونزې دي او یوازې ۲۰ سلنه یې د بېرونیو عواملو له کبله دي. د متفکرینو لپاره یوازې دا ستونزمنه ده، چې وکولی شي ستونزه مشخصه کړي. کله چې ستونزه مشخصه شي، حلول یې د دوی لپاره د پوښتني کولو په پرتله اسانه دي. کله چې ستونزه مشخصه شي، دوی له ځان څخه پوښتي چې د ستونزې د را ولاړېدو اصلي لامل په څه کې دی؟ برایان ټریسي وایي، د دندو په سمینارونو کې ډېر کله دغه پوښتنه کوم: « څوک غواړي چې ګټه یې دوه برابره شي؟» ډېر کسان خپل لاسونه پورته کوي، بیا له دوی غواړم، ولې مو تر اوسه ګټه دوه برابره نه ده؟ دوی ته وایم، ستاسو د شرکت په څېر ډېر شرکتونه شته، چې دوه برابره، درې برابره او ان پنځه برابره ګټه کوي، په داسې حال کې چې کارکوونکي یې هېڅ تجربه هم نه لري، د هغو شرکتونو مدیران او مشران هم ستاسو په څېر دي، نو بیا ولې تاسو کمه او هغوی ډېره ګټه کوي؟ دغه تمرین له دوی سره مرسته کوي، چې خپلې هغه نیمګړتیاوې او نظرونه را سره شریک کړي، چې د دوی د عوایدو کچه یې را ټیټه کړې ده.

## هګۍ اعصاب او هډوکي قوي کوي



هګۍ د کولین (Choline) نومي موادو غوره سرچینه ده، چې د اعصابو انتقالي سیستم په پیاوړي کولو کې مهمه ونډه لري. د هګۍ ژېړ خاصه اندازه فولیټ (Folate) لري، کوم چې عصبي حجرات فعاله ساتي او له دې سره د اعصابو فعالیت له پخوا چټک او زیاتوي. هګیو کې شته ویټامین بي ۱۲ (Vitamin B 12) د اعصابو لپاره دفاعي سیستم جوړوي.

• هډوکي پیاوړي کوي:

هګۍ د ویټامین ډي (Vitamin D) لپاره هم غوره منبع ده، کوم چې په بدن کې د کلسیم جذبولو لپاره ډېر اړین دي. له دې سربېره، په هګیو کې شته کلسیم (Calcium) او فاسفورس (Phosphorous) له بدن څخه اوستیوپروسېس (Osteoporosis) نومي مواد له منځه وړي او هډوکي لا پیاوړي او کلکوي.

• د بدن وزن په یو حالت ساتي:

هګۍ زیاته اندازه پروټین لري چې په همدې اساس د هغو کسانو لپاره، چې غواړي پیاوړي عضلې ولري، یو غوره انتخاب دی. د هګۍ استعمال د زیاتو خوړو د خوړلو مخه نیسي، چې په دې ډول د اضافي وزن زیاتېدو په مخنیوي کې مرسته کوي.